د غیر مشروع اپیومو په لړ کې د سرب مسمومیت

د ټولنې فاکټ شیټ

سرب څه شی دی؟

سرب یو فلز دی چې په طبیعي ډول په چاپیریال کې موندل کیږي. دا فلز په صنعت کې کارول کیږي او پخوا په پټرول او کورنۍ رنګونو کې اچول کیده. د سرب څخه انسان هغه مهال زیان من کیدی شي که چیرې ککړ خواړه، مواد، اوبه، خاوره یا دوړه یې خولې ته تیره شي یا د ساه له لارې بدن ته ننوځي. دا د خلکو په روغتیا خورا جدي اغیزې کولی شي. دا اغیزې ځینې مسایلو پورې تړلي دي لکه د اغیزمن شوي شخص عمر، د سرب هغه مقدار چې شخص ورسره مخ شوی او د څومره مودې لپاره، او دا چې آیا نورې روغتیایی ستونزې لري که نه.

غیرمشروع اپیوم او سرب

غیر مشروع اپیوم د لوړې کچې سرب درلودلی شي. پدې وروستیو کې د غیرمشروع اپیومو څښلو یا خوړلو په پایله کې په ویکټوریا کې ځینې خلک د سرب جدي مسمومیت سره مخ شوي دي. داسې انګیرل کیږي چې دغه غیرمشروع اپیوم له بهره راوړل شوي، مګر په آسټریلیا کې پیرل شوي دي. دا تور کنډ یا خمیر په بڼه وي.

د ټیسټ او معاینې کولو پرته بله هیڅ کومه داسې لاره شتون نلري چې له مخې معلوم شي آیا اپیوم په سرب یا بل ډول زیان لرونکي موادو ککړ دي که نه.

د سرب مسمومیت

علایم یې کوم دي؟

د سرب سره مخ کیدل په خلکو مختلف ډوله اغیزې کولی شي، او علایم یې دی پورې تړلي دي چې یو شخص ورسره څنګه مخ شوی دی، څومره ورسره مخ شوی او د څومره وخت راهیسې ورسره مخ دی. په وینه کې سرب د مقدار پام وړ حد پورې ډیریدل د اوږدې مودې لپاره د بدن د غړو زیان من کولو او یا هم د مړینې لامل کیدی شي. په ځینې خلکو کې ممکن د لږ مقدار سرب سره مخ کیدل هیڅ علایم څرګند نکړي.

د سرب حاد مسمومیت خورا جدي مسله ده او عموماً پدې وروستیو کې د لوړ مقدار سرب سره مخ کیدو له امله خلکو ته پیښیږي. په علایمو کې شامل دي:

- سر درد
- د نس درد
- زړه بدی او استفراغ
- قبضیت
- بې هوښي
- سټرېا

هغه اشخاص چې د اوږدې مودې لپاره لږ مقدار سرب سره مخ کیږي هغوی دا علایم درلودلی شي لکه:

- د چلند ستونزې
- قاریدل
- د وینې لوړ فشار
- د انرژۍ نه درلودل
- ناسمه هضمې
- د اشتها له لاسه ورکول

د دې علایمو څخه ډیرې یې د نورو روغتیایی شرایطو له امله هم رامینځته کیدی شي، **په هرصورت که تاسې پدې وروستیو کې اپیوم خوړلي وي، په ځانګړي توګه د 2016 له پیل راهیسې، نو تاسې باید ډاکټر ته ورشئ او د خپلې وینې سرب معاینه کړئ.**

ستاسې ډاکټر تاسې سره پدې برخه کې هم مرسته کولی شي چې تاسې د سرب سره ممکنه مخ کیدو څخه ډډه وکړئ البته هغه تاسې مرسته وکړي چې د اپیوم استعمال پریږدئ او که اړتیا وي مناسب درملنې ته لاسرسی پیدا کړئ.

علاوه لدې تاسې په 1800 888 236 شمیره مستقیم لیکې ته هم تلیفون کولی شئ. دا یو محرم خدمت دی چې د درملنې مناسب خدماتو لپاره معلومات، مشوره او رجوع کولو چارې وړاندې کوي، نو پدې توګه که اړتیا وي تاسې سمه درملنه ترلاسه کولی شئ.

VICTORIA State Government | Health and Human Services

زه نوره مرسته چیرته ترلاسه کولی شم؟

- ستاسي ډاکټر یا عمومي طبي معالج
- د اعتیاد په اړه ملاتړ لپاره د خپل ډاکټر، مشاور یا ټولنیز کارکونکي سره د خپل ځان او خپلې کورنۍ لپاره د مرستې موندلو په موخه د پیل په توګه خبرې وکړئ، یا په 1800 888 236 شمیرې مستقیم لیکې ته د ویکټوریا د 24 ساعته محرم الکول او نشه ییز توکو مشورې او رجوع خدمت لپاره تلیفون وکړئ
- که تاسې د کورنۍ کوم غړي په اړه اندیښنه لرئ (تر 25 کلنۍ پورې) نو په 1800 458 685 شمیره د ځوانانو د نشه ییز توکو او الکول مشورې (YoDAA) د تلیفون مرستې لیکې ته تلیفون وکړئ
- د سرب په اړه د روغتیا مشورې لپاره د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د چاپیریال برخه (1300 761 874)
- د سرب سره مخ کیدو او ستاسې د روغتیا په اړه نورو معلوماتو لپاره د غوره روغتیا چینل (Better Health Channel) ځخه لیدنه وکړئ: https://www.betterhealth.vic.gov.au/health/HealthyLiving/Lead-exposure-and-your-health
- د مشورې لپاره د ویکټوریا د زهرو او مسمومیت د معلوماتو مرکز د تلیفون شمیره 13 11 26 – که چیرې کوم ځوک مسموم شي یا د مسمومیت شک وي او همدارنګه د مسمومیت د مخنیوي معلوماتو لپاره (په اونۍ کې 7 ورځې، هره ورځ 24 ساعته)

د لاسرسي وړ فارمیټ کې د دې خپرونې ترلاسه کولو لپاره 1300 761 874 ته تلیفون وکړئ، د ملي ریلی خدمت 13 36 77 په کارولو سره که اړتیا وي، یا environmental.healthunit@dhhs.vic.gov.au ته بریښنالیک ولیږئ

د ویکټوریا حکومت لخوا جواز ورکړل شوی او خپور شوی، 1 ټریژري پلیس، میلبورن.

© د ویکټوریا آیالت، د روغتیا او بشري خدماتو وزارت جولای 2018.